# ژبه او د ژبې خصوصیات

بشرٰی خاتون

**Abstract**

The trait which most decisively distinguished human beings form all other creature on the Planet is language. Language is a unique possession of man. It is God's special gift to mankind. Language is a very complex human phenomenon. It is non instinctive, conventional and arbitrary in nature. Language is both linguistic and communicative competence. It is symbolic systematic in nature. This paper throws light on some distinguishing and striking characteristics of language.

ژبه او انسان یو بل سره لازم وملزوم دي ـ کله چې الله تعالیٰ آدم پیدا کړو نو ورته ئې د ټولو شیانو نومونه هم اوښودل ـ

وَعَلَّمَ اٰدَمَ الۡاَسۡمَآءَ كُلَّهَا[1]

ترجمه: او اوښودل مونږ آدم ته د ټولو څیزونو نومونه

په دے سیاره د انسان عمر ډېر زیات دے ولې ددۀ د تاریخ عمر په مشکله پینځو شپږو زرو کالوته رسي ـ دا ځکه چې مونږ سره څه لیکلے تاریخ نشته ـ ژبه د انسان د تاریخ په حقله د معلوماتو حاصلولو یوه کوټلے ذریعه ده ځکه چې مذهب، رسمونو، رواجونو، قانون او په ثقافت کښې بدلون راځي ولې په ژبه کښې ډېر کم بدلون راځي ـ ژبه نه صرف د انسان د تاریخ د معلومولو د پاره ضروري ده بلکې د یو قوم د فنا او بقا انحصار هم د هغوي په ژبه دے ـ ځکه چې زمونږ د ذهني، تهذیبي،اخلاقي او روحاي ورثې هم د ژبې محتاجه دي ـ ژبه انسان ته د الله تعالیٰ د طرف نه یوه خصوصي تحفه ده ـ ژبه هر ځائے موجوده ده ـ زمونږ په سوچونو ، زمونږ په خوبونو ، زمونږ په دعاګانو زمونږ په تعلقاتو او زمونږ په رسمونو رواجونو ټولو کښې ژبه موجوده ده ـ دا د علم خزانه ده ـ د سوچ ذریعه ده ـ د ژبې په ذریعه

مونږ علم د يو نه بل ته او د بل نه بل ته منتقل کوؤ ـ زمونږ فولکلور مونږ ته محض د ژبې په ذريعه رارسېدلے دے ـ د ژبې نه بغېر د تهذيب او د سائنس تر دې حالته رارسېدل ناممکنه وو ځومره چې هم آرکيالوجيکل کنستني (Excavations) کولے شي ـ د لوښولرګو ، کالو پترو او هډوکو وغېره نه مونږ د يو انساني دور اندازه په ګرانه لګوؤ ـ خو ولې کۀ په دغه کنستنو کښې سيکې (Coins) را اوځي ـ او په دغه سيکو څۀ ليک وي ـ يا پرې څۀ تصوير جوړ وي ـ يا داسې کتبې را اوځي چې په هغې څۀ ليک وي ـ نو ددې ليکلو نه د هغه دور خصوصيات ښۀ په آسانه معلومېدے شي ـ

ژبه زمونږ د روحاني سکون سبب هم ګرځي ـ يو خو خلق موسيقي ته د روح غذا وائي په دې بحث کول نۀ غواړم خو زمونږ د عقيدې مطابق کۀ الله تعالیٰ هر څو زمونږ په زړونو کښې د پټو خيالونو نه هم خبردار دے ولې چې تر کومې مونږ په خپله خولۀ ذکر ، تلاوت اونۀ کړو نو مونږ ته سکون نۀ ملاوېږي ـ او نۀ مونږ خپله روحاني درجه (Spiritual level) اوچته ګڼو ـ د تصوف ډېرې مرحلې هم د ذکر په وجه سر کېدے شي ـ زمونږ د ژوند ښۀ والے او بد والے هم ټول د ژبې د برکته دے ـ په خرابه ژبه زمونږ ژوند دوزخ کېدے شي ـ او په ښۀ ژبه جنت کېدے هم شي ـ ژبه د ګويايی داسې قوت دے چې مونږ ئې د ځناورو نه ممتازه کړي يُو ـ هم په دې ژبه مونږه د خدائے حمد و ثنا هم وايو ـ په رسول ص درود هم وايو ـ د خوشحالی سندرې پرې هم وايو او د غم ساندې هم ـ خو دا خبره صفا ده چې ژبه د ګڼو مقاصدو دپاره استعمالولے شي ـ

> "Language, it seems is a multi purpose instrument. One function however seems to be basic language enables us to influence people, behaviors and to influence it in detail, and there by makes human Co-operation possible. Language is being used to strengthen the bonds of cohesion between the members of a society"[18]

> ترجمه :- ژبه ګڼو مقصدونو سر کولو والا آله ښکاري ولې يو وظيفه ئې بنيادي ده او هغه دا چې د ژبې په ذريعه مونږ د خلقو په رويو باندې اثر پرېباسو او داسې دا د بنيادمو تر مېنځه د تعاون جوړولو وسيله ده ـ ژبه د ټولنې د غړو تر مېنځه د جوختولو رشتې مضبوطوي ـ

مختلفو ډکشنرو او انسائيکلوپيډيا د ژبې تعريفونه څۀ په دې ډول کړي دي ـ انسائيکلوپيډيا برټانيکا د ژبې په حقله ليکي :-

> "A system of conventional, spoken or written symbols by means of which human beings, as members of a social group and participants in its culture communicate"[3]

ترجمه :- د روایتي ویونکو لیکلو علامتونو داسې یو نظام د څۀ په ذریعه چې د یو معاشرتي ټولګي بنیادمان په خپلو کښې سره خبرې اترې کوي -

Dictionary of Linguistics د ژبې په حقله لیکي :-

A system of communication by sounds i-e through the organs of speech and hearing among human beings of a certain group or community using vocal symbols possessing arbiterary conventional meanings[4]

ترجمه :- د وینا او اورېدو د اعضاؤ په مدد د آوازونو یا غږونو په ذریعه د ابلاغ داسې یو نظام چې د یوې ټولنې غړي ئې د روایتي او اختیاري معنو دپاره د غږونو د علامت په توګه پکاروي -

Webster, New International Dictionary د ژبې په حقله لیکي:-

Language is audible, articulate human speech as produced adjacent vocal organs..... The body of words and methods of combining words used and understood by a considerable community, especially when fixed and elaborated by long usage, a tongue[5]

ترجمه :- اوریدونکي هغه نطقي آوازونه چې د ژبې او ورسره تړلي د نورو نطقي اعضاؤ شریک عمل نه جوړېږي - د لفظونو هغه مجموعه او هغو ته د ربط او ترکیب ورکولو هغه طریقې چې په یو انساني ټولګي کښې استعمالېږي او مطلب ترې اخستے شي - په خصوصي توګه کله چې د ډېرې مودې راسې د استعمال په وجه مکمل او مستقل شوي وي ژبه بللے شي -

په دې تعریف کښې د ژبې په حقله درې نکتې بیان شوي دي - وړومبئ دا چې ژبه د مخصوص نطقي اعضاؤ نه پیدا کېږي - دوېم دا چې په دې کښې د لفظونو د ترکیب او ترتیب څۀ خاص طریقې وي - یعني دا یو پوره نظام وي - او درېمه دا چې دا په یو مخصوص انساني ټولګي کښې استعمالېږي - او د هغه ټولګي غړي پرې په خپلو کښې ښۀ پوهېږي -

Henry sweet ډېر په لنډو ټکو کښې د ژبې تعریف کوي -

Language may be defined as the expression of thoughts by means of speech sounds[6]

ترجمه :- د وینا په ذریعه د خپلو خیالاتو اظهار ته ژبه وئیلے شي -

د ژبې او ټولنې په خپلو کښې ډېر نزدې او ضروري تعلق دے ـ يوه ژبه په خلا کښې وجود نۀ لري بلکې دا په انساني معاشره کښې د پيغام رسولو مقصد دپاره پکار راوستے شي او خپله يوه معنٰی لري ـ دغه معنٰی ژبې ته افاديت ورکوي ـ او ددې د وجود سبب ګرځي ـ د استعمال ددې خاصيت په وجه د څۀ تحت چې دې يو اشاراتي نظام قائم کړے دے ـ ژبه د بنديانو تر مينځه ژوندئ ژاړه موجوده ده ـ د بشر پوهنې ماهران هم د بنيادم د ژوند د ارتقاء سره د ژبې په حقله هم څېړنې کوي۔

بشريات کے ماہرين کے نظر ميں زبان بنی نوع انسان کے ساتھ وجود ميں آئی ہوئی آوازوں اور صوتی علامتوں کا ايک ايسا سررشتہ ايک ايسا نظام او ر ايک ايسا عمل ہے ۔ جس کی مدد سے ايک معاشرتی گروہ کے افراد دوسرے گروہ کے افراد کے ساتھ تعلق قايم کرسکتے ہيں اور ايک دوسرے کو سمجھ سکتے ہيں۔ [7]

ترجمه :- د بشر پوهنې د ماهرينو په نظر کښې ژبه د بنيادم سره پيدا کېدونکو آوازونو او غږيځو علامتونو يو داسې جال او يو داسې نظام دے د څۀ په مدد سره چې د يوې ټولنې غړي د بلې ټولنې د غړو سره تعلق قائمولے شي ـ او د يو بل په ما فی الضمير پوهيدے شي ـ

لنډه دا چې ژبه يو انساني خاصيت دے ـ د معلوماتو ورکولو يوه ذريعه او تر ډېره حده يوه روايتي معاشرتي رويه ده ـ ژبه د ويونکو علامتونو يو داسې نظام دے چې بيخي په سوچه او اختياري روايتونو اډانه لري او تر بې شمېره حده پورې د ويونکو د ضرورتونو او حالتونو په وجه بدليدے او لوئيدے شي ـ د بشر پوهنې ماهران ژبه د کلتوري روېې يو شکل ګڼي ـ د ټولن پوهنې ماهران ژبه د يوې ټولنې د غړو تر مينځه تعلق ګڼي ـ فلاسفران ژبه د انساني تجربو د اظهار يوه ذريعه ګڼي ـ د ژبې استاذان ژبه د مهارتونو يعني Skills يو سيټ ګڼي ـ

## ١ د ژبې خصوصيات Characteristics of Language

ژبه د غږونو او آوازونو نوم دے Language is verbal, Vocal Language is Sound ـ ژبه د غږونو او غږيځ علامتونو يو منظم شکل يا نظام دے ـ دا غږونه د خولې نه را اوځي چې يو بامعني پيغام ورکوي ـ ددې مطلب دا هم دے چې وېنا د ليک نه وړاندې راځي ـ په نړئ کښې ډېرې ژبې داسې شته چې د ليکلو څۀ نظام نۀ لري خو بيا هم هغه ژبې دي ځکه چې

وئيلے شي ـ ژبه د علامتونو يو غريځ نظام دے ـ او په دې کښې غريځ توکي استعماليږي ـ لکه غږونه ، لفظونه او فقرې او دا ټول په يوه مخصوصه طريقه داسې ترتيب شوي وي چې جملې ترې نه جوړولے شي ـ

ژبه د ابلاغ Language is a means of communication ژبه د ابلاغ يوه ذريعه ده يوه ډېره طاقتوره مؤثره او مستقله ذريعه ده ـ د غږونو نه علاوه نور علامتونه لکه پېښې ، هر قسمه اشارې ، د ټريفک رڼاګاني د سړکونو علامتونه ، جهنډې ، بريل توري ، د رياضي او منطق علامتونه دا ټول هر څۀ د ابلاغ ذريعې دي ـ خو ولې بيا هم د ژبې هومره لچک پوهه او مکملتيا نۀ ګني ـ دا هم ژبه ده د څۀ په ذريعه چې خلق خپل خيالات ، خواهشات ، جذبات او احساسات يو تر بله رسوي او هم د ژبې په ذريعه دوي علم ذخيره کوي ـ پيغامات رسوي علم او تجربې د يو کس نه بل کس ته او د يو نسل نه بل نسل ته منتقلوي دا هم ژبه ده ـ چې ماضي او حال ئې د يو بل سره تړلي دي ـ ابلاغ د ژبې يوه ډېره فائده منده او زبردسته ذريعه ده ـ ځينې وخت د ژبې تعريف هم صرف په دې خاصيت پورې محدود کړو ـ

A Language is a system of symbols  rules that enables us to communicate[10]

ژبه يو معاشرتي څيز دے Language is a Social Phenomenon ـ ژبه د يوې معاشرې غړي استعمالوي ـ ژبه د انساني تعلقاتو او د کلتور په وده کښې ډېر غټ کردار ادا کوي ـ د معاشرې مثال د يوې ادارې دے چرته چې ګڼ انسانان د يو بل مدد کوي ـ يو بل سره تعاون کوي ـ يو بل سره خپل خيالونه غم او خوشحالي شريکوي ـ يو کس هم ځان له ژبه نۀ شي جوړولے او نۀ ئې مخ په وړاندې بوتلے شي ـ په دې حقله پارټر وائي رر انسانی زبان عوام کے معاشرے کی پیداوار ہے کوئی بھی زبان کسی قوم کے عالم نے اپنے کمرہ مطالعہ میں فرصت کے اوقات میں بیٹھ کر نہیں بنائی اور نہ کسی فاضل استاد نے کسی زبان کو تخلیق کیا ہے۔ عالم ، استاد ، فاضل اور علم و ادب لسانیات اور سماجیات کے ماہرین کسی زبان یا زبانوں کو مایہ دار ، سرمایہ دار ، لطیف ، دلپذیر اور شیرین تو بناسکتے ہیں ان کو صنائع بدائع کے استعمال سے زیادہ کومل اور نرمل تو ضرور بناسکتے ہیں ۔ اُن کو تشبیہات ، استعارات ، تجنیسات اور مرصع ، مسجع اور مقفٰی نثر کے استعمال سے سجاوٹ اور سنگھار تو پیدا کرسکتے ہیں ان خوبیوں اور خصوصیتوں کے سبب زبان کی علمی اور ادبی شاخوں پر پیدا ہوتی ہیں۔ جو خودبخود جنم لیتی ہیں اور بلا کسی سہارے کے پروان چڑھتی ہے ۔[9]،،

ترجمه :- انساني ژبه د اولس د ټولنې پيداوار دے ـ يوه ژبه هم د هغه قوم عالم په خپله کمره کښې په اوزګاره وخت کښې جوړه کړې نۀ ده ـ او نۀ چا فاضل استاد ژبه جوړه کړې ده ـ عالم ، استاذ ، فاضل ، د علم و ادب ، ژبپوهنې او ټولن پوهنې ماهران يوه ژبه يا ژبې مالدارې ښائسته او خوږې کولې شي ـ د صنائعو

او بدائعو په استعمال ژبه پسته او نرمه کولے شي ـ د تشبیهاتو ، استعاراتو مرصع ، مسجع او مقفٰی نثر په استعمال ژبې له ځنه سترګه کولے شي او ددې خوبو او خصوصیاتو په وجه د ژبې په علمي او ادبي حېثیت کښې اضافه کولے شي ـ خو د ژبې مهمې غوټۍ په هغه ځانګو سپړدلې کېږي کومې چې پخپله راټوکېږي او بغېر د څۀ سهارې نه وده مومي ـ

ژبه یو موروثي څیز نۀ دے Language is non Instinctive Conventional ژبه یوموروثي څیزنۀ دے دا زمونږ په جینز کښې کوډډ نۀ وي ـ جینز کښې د ویښتو رنګ د سترګو رنګ ، خوئي خصلت هر څۀ کوډډ وي ولې ژبه نۀ وي ـ ځکه چې ژبه یو موروثي څیز نۀ دے ـ کۀ چرې یو ماشوم په هر رنګه معاشره کښې لوئے کړے شو ـ نو هغه به د هغه معاشرې د غړو او ویونکو ژبه زده کوي ـ هغه به د خپل اصلي مور پلار ژبه نۀ وائي ـ بله خبره دا چې چرې هم داسې نۀ دي شوي چې یو څو بنیادمان یا د ژبې ماهران په یوه کوټه یا لیباړټرۍ کښې راجمع شوي وي او د یو خاص فارمولې تحت ئې یوه ژبه جوړه کړې وي ـ بلکې ژبه په معاشره کښې د افرادو د یو ځائے اوسېدو نه پخپله رازېږېږي ـ وده مومي ، بدلېږي ، خورېږي او مري هم ـ
ژبه یو بې قاعده او اختیاري څیز دے Language is Arbitrary. د Arbitrariness نه مراد دادې چې د یوې ژبې د یو خاصیت او معنې تر دا مینځه څۀ موروثي یا منطقي تعلق نشته ـ ددې نه علاوه د یوې ژبې د یو ټکي او معنې تر مینځه هم څۀ بلاواسطه (Direct) یا ضروري تعلق نشته ـ لکه مونږ د یو خیال یا یو څیز دپاره چې کوم ټکے پکارؤ ـ د هغې ټکي د جوړولو څۀ ټاکلي اصول نشته ـ دا یو معاشرتي د خپلې خوښې او بې قاعده Process دے ـ

Arbitrariness is the absence of any necessary connection between a linguistic form its meaning[11]

ترجمه :- د یو ټکي او د هغې د معنې تر مینځه د څۀ ضروري تعلق نشت والي ته Arbitrariness وئیلے شي ـ

د ژبې ددې خاصیت په حقله خلیل صدیقي لیکي :-

بات چیت کا مواد اختیاری ہوتا ہے لیکن وسیلہ یا میڈیم حافظے میں محفوظ وسیلے اور میڈیم سے ہم آہنگ رہتا ہے۔ علامتیں اور ان کی دلالتیں رائج ہوجاتی ہیں تو پھر کوئی فرد ان میں کسی قسم کا تصرف نہیں کرسکتا ۔ انہیں جس طرح سمجھا اور برتا جاتا ہے اسی طرح سمجھنا اور برتنا پڑتا ہے ۔

ترجمه :- د خبرو اترو مواد اختياري وي ـ خو وسيله يا ميډيم په حافظه کښې محفوظې وسيلې سره يو شان والے لري ـ علامتونه او د هغې دليلونه رواج اوومي او بيا ئې يو کس هم نۀ شي بدلولے چې هغه څنګه استعمالول پکاروي ـ هم غه شان استعمالولے شي ـ

ژبه علامتي حېثيت لري Language is Symbolic د ژبې علامتي خصوصيت اصل کښې ددې د بې قاعدګۍ نتيجه ده ـ علامت د يو خاص څيز دپاره وي او دا علامت د هغه څيز په ځائے استعمالېږي ـ ژبه د بې قاعده علامتونو يو نظام دے ـ د خيالونو ، جذبو ، څيزونو او تصوراتو دپاره لفظونه مونږ د علامت په توګه استعمالوؤ ـ په ژبه کښې لفظونه د علامتونو په توګه استعمالېږي خو د رياضۍ يا فزکس د G يا g علامت په شانې نه چې يو خاص Value لري ـ د ژبې ددې علامتي حېثيت په حقله خليل صديقي ليکي :-

زبان کی علامتی حیثیت اس کی اسی خصوصیت جسے اس کے مختلف منصبوں یا وظیفوں کا سرچشمہ سمجھا جاسکتا ہے ۔ ایسا سرچشمہ جو دوسرے خصوصی منصبوں یا وظیفوں کی سرگرمی و عمل کے لئے حسّی اور قابل ادراک مواد فراہم کرتا ہے ۔ آوازیں اس کے اجزائے ترکیبی کی حیثیت رکھتی ہیں اور معانی و مطالب ان کے مدلول ہوتے ہیں۔ [12]

ترجمه :- د ژبې علامتي حېثيت ددې داسې حېثيت دے چې ددې مختلفو کارونو سرچينه ګڼلے شي ـ يو داسې سرچينه چې د نورو وظيفو تر سره کولو دپاره حسي او د پوهې جوګه مواد راپيدا کوي ـ غږونه په دې کښې د جزونو حېثيت لري او معنٰی او مطلبونه ددې دليل وي ـ

ژبه يو نظام دے "Language is systematic" ژبه کښې لفظونه د علامتونو په توګه استعمالېږي ـ خو دا علامتونه هم په يو خاص طرز ترتيب شوي وي ـ دې ترتيب ته ګرېمر وئيلے شي او د هرې ژبې که هغه په ليکلي شکل کښې وي او کۀ صرف د وئيلو حده پورې محدوده وي خو يو خاص ګرېمر ضرور لري ـ

One of the most important characteristics of language is the presence of grammar. The grammar of language is simply the way it combines small elements (such as words) in to larger elements (Such as sentences)[11]

ترجمه :- د ژبې يو اهم خصوصيت په دې کښې دګرائمر موجودګي ده ـ د يوې ژبې ګرائمر په آسانو ټکو کښې هغه طريقه ده د کومې مطابق چې واړۀ اجزا يعني ټکي په غټو اجزاؤ يعني جملو کښې يو ځائے کولے شي ـ

او د هرې ژبې د ترتیب یعنې د جملې د ترتیب یو خپل نظام وي ـ لکه د مثال په توګه :- Aslam is eating an apple په دې جمله کښې مختلف لفظونه په دې ترتیب دي چې اول فاعل بیا فعل او بیا مفعول ـ او رر اسلم سیب خوري ،، په دې جمله کښې اول فاعل بیا مفعول او بیا فعل راغلے دے ـ

دا علامتونه د شمېر دي ولې په بې شمېره طریقو سره دا لفظونه مونږ ترتیب کولے شو او جملې ترې نه جوړولے شو ـ د ژبې ددې خاصیت په حقله ښاغلے خلیل صدیقي لیکي :-

> زبان ایک ایسا مرکب نظام ہے جو صوتی یا خونیمیاتی نظام ، گرامر کے نظام اور معنویاتی نظام سے ترکیب پاتا ہے ـ ان زیلی نظاموں کے تفاعل باہمی مطابقت اور اثر و نفوذ ہی سے نظام لسان کے تانے بانے تیار ہوتے ہیں۔ [14]

> ترجمه :- ژبه یو داسې مرکب نظام دے چې د غږونو ، فونیمي ، ګرامري او د معنو د نظام نه جوړېږي ـ ددې وړو نظامونو یو بل سره مطابقت ، کار کولو ، په یو بل باندې اثر کولو او یو بل کښې د جذب کېدو نه د ژبې د نظام رغونه سازېږي ـ

ژبه یو ځانګړے ، تخلیقي ، پیچیده او بدلیدونکے څیز دے ـ هره ژبه په خپل ځائے ځانګړې او منفرده وي ـ په ژبو کښې څۀ خصوصیات یو شان هم شته ولې بیا هم د هرې ژبې خپل خپل نظام دے ـ چې یوه ژبه د بلې نه بیلوي ـ دغه شان هره ژبه د ټولنې د ضرورتونو او تقاضو مطابق بدلېږي ـ

Language is both Linguistic and Communicative Competence یوه ژبه د نفسیاتي اصولو او ټولنیز خیالاتو او معنو یو داسې تصوراتي نظام دے چې په یو مخصوص صورتحال کښې ئې یو غړے پکاروي ـ دا نفسیاتي اصول هغه غړے د نوؤ نوؤ جملو جوړولو جوګه کوي ـ په دې وجه مونږ وئیلے شو چې ژبه صرف د یوې روېې نوم نۀ دے دا د یو داسې نظام نوم دے چې د غږونو او معنٰی تر مېنځه ربط او تعلق قائموي ـ

د ژبې او د فکر په تعلق د نفسیاتو او ژبپوهنې ډېرو ماهرانو رڼا اچولې ده ـ د فکر د ژبې یا لفظونو سره ډېر ژور تعلق دے ـ ژبه د فکر دپاره یوه اهمه وسیله ده ـ د ژبې نه بغېر د فکر وړومبنۍ درجې خو سر کېدے شي ولې د فکر اعلٰی سطح او ارتقاء د ژبې سهارا اخلي ـ فکر ته وده ورکولو والا بحثونو او د استدلال ټول دار و مدار په ژبه باندې وي ـ خو دا ده چې کله کله لفظونه د فکر ملګرتیا نۀ شي کولے ـ او ددې د ترجمانۍ نه قاصره وي ـ لفظونه د فکر د ټولو لطیف اړخونو ددې د ژورتیا او باریکو احاطه نۀ شي کولے ـ ځکه چې لفظونه د معنې د یو خاص سطحې دلالت کولے شي ـ خو ولې بیا هم ژبه د فکر د ابلاغ دپاره یوه مفیده او مضبوطه ذریعه ده ـ

ژبه صرف انساني خاصه ده "Language is human" د انسان نه بغير بل ذي روح له الله تعالىٰ د ژبې يا د ګويايي طاقت نهٔ دے ورکړے او نهٔ ئې د نطق اعضاء ورکړي دي ـ ژبه يو ډېر پيچيده نظام هم دے چې صرف انسانانو سره تعلق لري ـ

Displacement :- د ژبې ددې خاصيت مطلب دا دے چې ژبه د زمان او د مکان په حدودو کښې ګېره نهٔ ده ـ مونږ د حال نه علاوه د ماضي او مستقبل خبرې هم کولے شو ـ دغه شان مونږ د هغه څيزونو په حقله هم خبره کولے شو چې زمونږ نه ډېر لرې او زمونږ د سترګو نه پناه وي ـ

> Displacement is the use of language to talk about things other than here now. We have not the slightest difficulty in talking about last nights football game, or our own childhood or the behavior of dianosaures which lived over 100 million ago or the ultimate fate of the universe with equal ease, we can discuss the surface of the planet neptune[15]

> ترجمه :- د ژبې د displacement خاصيت د ژبې د هغه څيزونو په حقله خبرې اترې کول دي چې د اوس او دلته نه بغير وه ـ مونږ د بيګاني فټ بال ميچ د خپل ماشومتوب د زمانې او ملينه کاله وړاندې اوسېدونکو ډائنوسارز د رويو په حقله بې د څهٔ ګرانۍ نه کولې شو ـ دغه شان مونږ د ټول کائنات او د نيپچون د مخ په حقله ښهٔ په آسانه بحث کولے شو ـ

ددې خبرو نه مونږ په دې نتيجه رسو چې ژبه صرف انساني خاصه ده ـ او کائنات کښې بل يو مخلوق له الله تعالىٰ دا خاصيت نهٔ دے ورکړے ـ ژبه يو ډېر پيچيده نظام هم دے چې په سائنسي توګه د مطالعې نه بغير پرې پوهه کېدل ګران دي ـ ددې نه علاوه ژبه يو شمېر امتيازي خصوصيات هم لري چې دلته ئې مونږ يوه اجمالي جائزه پېش کړه ـ ولې هر يو خصوصيت ئې پوره پوره څېړنې ته احتياج لري او روغ کتابونه پرې ليکل کېدے شي ـ

## حوالې


[١] القران ـ سورة بقره آيت ٣٠

[٢] Barber, C.L the story of Language pan Books London Sydney, .

[٣] Encyclopedia Britannica Vol 13

[٤] A. pic, Mario and gaynor, frank, Dictionary of Linguistics, 1954

[٥] Webster New International Dictionary 2nd Edition

[٦] Saiful – Haq, M Mian and Hussain, Bashir An Approach to the study of linguistics, New kitab Mahal urdu Bazar Lahore.

[٧] الانا، غلام علی، ڈاکٹر، زبان اور ثقافت، علامہ اقبال اوپن یونیورسٹی اسلام آباد ١٩٨٧.

[٨] الانا، غلام علی، ڈاکٹر، زبان اور ثقافت، علامہ اقبال اوپن یونیورسٹی اسلام آباد، جولائی ١٩٨٧ء، ص ٤٥

[٩] الانا، غلام علی، ڈاکٹر، زبان اور ثقافت، علامہ اقبال اوپن یونیورسٹی اسلام آباد، جولائی ١٩٨٧ء، ص ٤٠

[١٠] A. Harley, Trevor, The psychology of language from data to therapy, psychology press Taylor  Francs Group Hove  New York, 3rd edition.

[١١] Trask, R.L, language the Basics, Rout ledge Taylor  Francis group London  New York, 2004 2nd edition , P 12

[١٢] صدیقی خلیل، زبان کیا ہے، بیکن بکس گلگشت ملتان، ٢٠٠١ء، بار دوم .

[١٣] صدیقی خلیل، زبان کیا ہے ـ بیکن بکس گلگشت ملتان، ٢٠٠١ء، باردوم، ص ١٩

[١٤] صدیقی خلیل، زبان کیا ہے ـ بیکن بکس گلگشت ملتان، ٢٠٠١ء، باردوم، ص ٢١

[١٥] Trask, R.L, language the Basics, Rout ledge Taylor  Francis group London  New York, 004 nd edition , P 1

[١٦] A. pie, Mario and Gaynor, Frank, Dictionary of Linguistics, 1954

[١٧] Encyclopedia Britannica Vol 13

[١٨] Barber, C.L the story of Language pan Book London  Sydney, 972 , P 20